



**ارسطو:**

نوموړی د لرغوني یونان او لوېدیځې نړۍ یو له لویو فیلسوفانو، مهمو عالمانو او متفکرینو څخه دی، چې اندونو او انګیرونو یې په مسیحي او نورو مذهبي او دیني خبرې اغېز پرېښی دی. د فلسفې په ټول تاریخ کې له اپلاطون او کانت پرته شاید هیڅوک د هغه د اندو فکر ژوروالی او پراخوالی ونه لري. هغه د لرغوني یونان په پېر کې د لومړي اروپایي بیولوژیست په توګه هم پېژندل شوی دی.

ارسطو له میلاد نه «۳۸۴» کاله مخکې د مقدونیې د «ستاګیرا» په ښار کې چې د اتن شمال ته په (۳۰۰)کیلومترۍ کې پروت دی زیږېدلی دی. د هغه پلار د مقدونیې د پاچا ملګری او طبیب وو. ارسطو په ځوانۍ کې کله چې (۱۸)کلن وو د اپلاطون د اکاډیمي په نوم د هغه په فلسفي ښوونځي کې د زده کړې لپاره آتن ته لاړ. ارسطو د اپلاتون تر ټولو نوموتی او غوره زده کوونکی وو، خو په ځینو موضوعاتو په تېره بیا د هنر او ښکلا پېژندنې په برخو کې یې له هغه سره د لید او نظر اختلاف درلود. اپلاتون د خپلو زده کوونکو په منځ کې ارسطو ته ځانګړې پاملرنه او مینه ورکوله او هغه یې تر ټولو هوښیار او تکړه زده کوونکی ګڼو. او د هغه لخوا، ارسطو په اکاډمۍ کې د حکمت مجسمه بلل کیده. ارسطو شل کاله له اپلاطون سره د هغه په اکاډمۍ کې د هڅاند او فعال غړي په توګه برخه درلوده. د اپلاطون له مړینې وروسته، هغه اکاډیمي پرېښوده او کوچني آسیا ته لاړ، چیرې چې هغه د یوې شتمنې او اغېزمنې کورنۍ له لور سره واده وکړ. له ارسطو څخه څو کتابونه پاتې دي، چې یو یې د «بوطیقا» یا د «شعر هنر» کتاب دی، چې د شعر او شاعرۍ په اړه لیکل شوی دی. دا کتاب هم منځپانګه لري؛ او هم د شعر د جوړښت او بڼې په اړه لارښوونې لري. ارسطو خپلې لیکنې د فزیک، میتافزیک، شعر، بیولوژي، د منطق، د بیان علم، سیاست، حکومت او اخلاقو په ګډون په بېلابېلو برخو او څانګو کې کښلې دي. د ارسطو له ننبیرونو(اثارو) څخه مهم او ګټور ننبیرونه(اثار) دا دي:«غاطیقوریاس یانې مقولات»، «انولوطیقا یانې تحلیل چې دوې رسالې لري، د قیاس او برهان په باب کې»، «طوپیقا: د جدل په تړاو. د دې

رسالې مجموعې ته په قديم کې ارگانون ويل کېده»، «ريطوريقا، د خطاطۍ د فن په باب»، «بوطيقا، د شعري صنعت په باب» او «ما بعد الطبيعه». همداسې يې نور ډېر موضوعات او مسايل د طبيعاتو او اخلاقو په تړاو کښلي دي. وروسته له ډېره وخته د مقدونيې پاچا «فيليپ»، ارسطو ته بلنه ورکړه چې خپل زوی سکندر ته زده کړه، لوست او درس ورکړي. همدا کار يې وکړ. خو له څو مودې وروسته بېرته آتن ته راستون شو او هلته يې د «ليسه» په نوم د حکمت مکتب پرانيست. د سکندر له مړينې وروسته ارستو ونه کړای شو چې په آتن کې پاتې شي نو «شاليس» ته يې مهاجرت وکړ او هلته په (٦٣) کلنۍ کې مړ شو.

**دلته د ارسطو گڼ شمېر مهمې او گټورې خبرې او وېناوې تاسو ته وړاندې کوم:**

- څوک چې له يو څه شي وېرېږي له هغه څخه تښتي، خو څوک چې له خدايه وېرېږي هغه ته پناه وړي.

- ښځه او مينه د يو بل لپاره اړين دي.

- انسان بايد خپله نېکمرغي او يا بد مرغي په پوره مېړانه ومني او د نورو په خوشاليو همدومره خوشاله شي، لکه په خپله خوښۍ چې خوشالېږي.

- د مال او پيسو په گټلو کې منځلاري کوه، رښتيني دوستان ومونده، د خيال پالنه کوه او ذهن ته پراختيا ورکړه.

- خپلې غوښتنې د دوه ځواکمنو دېوالونو، لکه : تکل او اراده، پوهې او عقل ترمنځ بندې کړئ.

- خوشالي د لوړو صفتونو او عادتونو په روزنه او پالنه کې ده.

- مېړني د بدمرغۍ او سوکالۍ په دواړو شېبو کې ځان نه هېروي.

- د مېړنو او ځوانمردو کسانو، کړه وړه او راشه درشه د بدمرغۍ او نیکمرغۍ په وخت کې یو ډول دي.

- ارستو د اپلاتون  فلسفه تر کره کتنې لاندې راوستله، ورته وویل شول، چې ولې دې د خپل ښوونکي درناوی له پامه وِغورځاوه؟ هغه ځواب ورکړ: «ښوونکی راته ګران دی، خو حقیقت او رښتیا راته تر هغه هم ډېر ګران دی»

- له ظالمانو سره اړیکې مه ساتئ، کېدای شي د قیامت په ورځ د هغوی د جرم او ګناه پوښتنه له تاسې څخه وشي.

- یو دروغ زر رښتیا ورانوي.

- ښکلا تر ټولو ښه لارښوونه ده چې د ښځې پر ټنډه لیکل شوې.

- د اصیلو کسانو کړه وړه او راشه درشه، د نېکمرغۍ او بد مرغۍ په وخت کې یو ډول وي.

- اخلاقي عمل ازادي او انتخاب ته اړتیا لري.

- د ښو او غوره خلکو اغېز تر ټولو هغه وخت احساسېږي چې زموږ په منځ کې نه وي.

- یوازې د هوښیارۍ او فضیلت پېژندنه بس نه ده، باید هغه ترلاسه او عمل پرې وکړو.

- د ملګرتیا د بقا لپاره باید د یو بل فضیلت او ارزښت وپېژنئ او یو بل ته د درنښت او درناوي په سترګه وګورئ.

- د زده کړو رېښې ترخې، خو مېوې یې خوږې وي.

- ټول انسانان د پوهې لپاره طبیعي هیله لري.

- هیڅوک د ملګرو پرته ژوند کولو ته چمتو نه دی، حتا که هغه ټوله نړۍ ولري.

- څوک چې د خلکو سره مینه لري، له ځان سره یې مینه کړې ده.

- حقیقت باید د آزمایښت او تجربې او مشاهدې له لارې وپیژندل شي.

- آزمایښت او تجربه داسې میوه ده چې له ورستیدو څخه  د مخه نه شوکول کېږي.

- حقیقت د خزانې په څیر دی، څومره چې ښکاره شي، هومره یې پلویان هم زیات وي، او دروغ د اور د پټې لمبې په څیر دی، چې کله راښکاره شي، نو د اور د لمبو او تباهۍ لامل کیږي.

- زړورتیا د عزت او کرامت تر څنګ د ذهن ترټولو لویه ځانګړتیا ده! ځکه چې د زړورتیا پرته تاسو په دې نړۍ کې هیڅ څه نشئ کولئ.

- هغه ځوک چې پر خپلو هیلو او خواهشاتو بریالی کېږي د هغه چا په پرتله ډیر زړور دی چې پر خپلو دښمنانو برلاسی کېږي ځکه چې پر نفس بریالیتوب خورا گران دی.

ـ ښه اخلاق یوازې امن، سوکالي او سلامتي نه راوړي، بلکې په زړونو کې ځای هم جوړوي.

- د خیر او اصلاح له مخې نیوکه رغوونکې ده، خو د حسد، کرکې او کینې له مخې ورانوونکې ده.

- ځان پېژندنه د پوهې او عقل سرچینه ده.

- ناپوه او احمق سړی ماته خپل دک و دلیل وایي او هوښیار سړی ما قانع کوي.

- په کوم څه شي چې نه پوهېږې هغه مه وایه، څه ته چې اړتیا نه لرې، هغه مه لټوه او کومه لار چې درته مالومه نه وي، پر هغې مه ځه!

- د زده کړې او تعلیم ریښې ترخې دي خو میوه یې خوږه ده.

- اندو فکر ته وده ورکړه او ذهن ته پراختیا ورکړه.

- هوښیار سړی په هر هغه څه چې پوهېږي نه یې وایي او هرڅه چې وایي پرې پوهیږي.

- زده کړې د خوښۍ په وخت کې د زینت و زیور په څیر دي او د بدې ورځې، درد او مصیبت په وخت کې د سرپناه په څیر دي.

- موږ د رڼا د لیدلو لپاره  په تیارو شیبو کې باید پاملرنه وکړو.

-  دوه شیان غمونه له منځه وړي: یو له ملګرو سره ناسته پاسته او بل له پوهانو او عالمانو سره خبرې.

- له نیوکې او انتقاد څخه د مخنیوي لپاره یوازې یوه لاره شتون لري: هیڅ کار مه کوه؛ څه مه وایه؛ او هیڅ څوک مه کیږه!

***

**په درنښت او ادبي مینه: انجنیر عبدالقادر مسعود**